زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده د تاسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

شنبه، (۵- ٦مه) ګڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۴۹- ۳۵۰مه) ګڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د جوزا (غبرګولي) د مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۱هـ.ق. کال، د شوال د مياشتې ۲۸مه او د ۲۰۲۰ز.کال، د جون ۲۰مه.

باد که مې يوسي له کوره څه شي
پاته بې خاورو له ما هيڅ نه شي
په هوا ناڅم، غبار په شاني
اموال که دا وي، هر ځای مونده شي

کاظم خان شيدا

د ژباړې اهميت

گل رحمن رحماني

«که بدلون غواړې نو زده کړه ښې خبرې
په خبرو نړدې کېږي خلک لرې»

زموږ خاورينه نړۍ په لويو وچو وېشل شوې او دغه وچې له هېوادونو جوړې دي چې شمېر يې څه باندې ۲۰۵ سترو او کوچنيو هېوادونو ته رسېږي. د دې هېوادونو خلک د افهام او تفهيم لپاره خپلې ځانګړې لويې او وړې ژبې لري او بېلابېل قومونه په کې مېشت دي. د شمېرو له مخې په نړۍ کې نږدې ۷۰۰۰ کاربدونکې ژبې شته چې څو يې نړيوالې او نورې يې محلي او سيمه‌ييزې دي.

اوس چې انسان په داسې يوه زر ژبې نړۍ کې ژوند کوي، د ژوند نړۍ يې هم د ټکنالوژۍ او وروستيو پرمختګونو په سبب ورځ تر بلې د نږدې کېدو خواته روانه ده، انسانان يو له بل سره مخامخ کېږي، د ګوښه کېدو او له پرمختګونو د سترګو پټولو زمانه پای ته رسېدلې؛ نو په داسې حال کې بايد د ډيالوګ، خبرو اترو او مباحثو زمينه رامنځته شي، د دې زمينې تر ټولو غوره وسيله ژبه او ژباړه ده.

د ژبې په برخه کې دا هم مشهوره ده چې کوم کس په يوه ژبه پوهېږي، يو سړی دی، څوک چې په دوو ژبو حاکم وي دوه او څوک چې درې يا زياتې ژبې زده کوي، په حقيقت کې يې د انساني ځواک کچه هم هغومره ورسره اوچته ده، ځکه چې په ډېرو ژبو پوهېدل د انساني مغز د غوړېدو او لوړ فعاليت سبب ګرځي، حتی وروستيو ناتايید شوو څېړنو دا هم ښودلې چې په ډېرو ژبو پوهېدونکي نظر هغو کسانو ته ځوان پاتې کېږي چې يواځې يوه ژبه يې زده وي.

ښايي هيڅوک هم داسې پيدا نه شي چې د ژباړې له اهميته دې انکار وکړي، ژباړه له اوچت تاريخي، علمي، فرهنګي، ديني او ټولنيز اهميت څخه برخمنه ده. زموږ ټول ديني متون له قرانکريم څخه را نيولې حتی تر الف با سپارو پورې په عربي ژبه دي، موږ يې په لفظ ډېر ښه او روان لولو، پنځه وخته د خدای تعالی په حضور کې درېږو، لمونځ، نفلونه او دعاګانې کوو، خو کله مو فکر کړی چې بايد د خپل عبادت په معنا ځان پوه کړو؟

پر دې معنا پوهېدل يواځې د ژباړې له لارې کېږي، کوم مسلمان چې د قران او لمانځه په معنا پوه وي، د هغوی په پرتله له خپل عبادت او دعاګانو زيات خوند اخلي او قلبي تمرکز ۳مخ

د ژبې د پرمختګ اړين لاملونه

څېړنپوه مولا جان تنيوال

ژبه د پوهولو راپوهولو وسيله، د تجربو د انتقال اړينه او مناسبه لاره او د بشريت د کلتور، تاريخ، پنځونو او د هغوی سره د اشنايۍ يواځنۍ ذريعه ده. بشري ټولنې که نور هيڅ هم ونه لري، خو يوه ژبه بايد هرومرو ولري دا ځکه چې د ژبې د شتوالي څخه پرته ژوند او بشري ټولنه موجوديت نشي درلودلای. هغه ټولنه چې ژبه نه لري څوک يې ژوندۍ ټولنه نه بولي. داسې ټولنه د مړې ټولنې په نوم يادېږي. د داسې ټولنې ژبه هم ژوندۍ ژبه نه ګڼل کېږي او په اړه يې په يوه نيم کتاب يا Inschriften کتيبو کې لږ و ډېر مواد پيداکېږي.

د نړۍ پرمخ د بشري ټولنو جوړښت يو ډول نه دی. ځينې ټولنې د يوه يا دوو قامونو څخه جوړې شوې وي او اوسېدونکي يې هم د سواد او زده کړې له نعمت څخه برخمن وي. دا ډول ټولنې په خپل ټولنيز ژوند کې داسې ربړې نه لري چې د ټولنيز پرمختګ مخه ډب کړي او يا يې پر وړاندې ستري ستونزې را ولاړې کړي. زما په خيال خو داسې ټولنې بختورې ټولنې دي او ډېر ښه مثالونه يې د بلژيک او جرمني هېوادونه دي.

ځينې نورې ټولنې له ډېرو قامونو څخه جوړې شوې وي، د سواد او زده کړې کچه يې يا په هيڅ حساب وي او يا هم دومره ټيټه وي چې د لرلو څخه يې نه لرل ښه دي. د داسې ټولنو خلک د ټولنيز پرمختګ لپاره سر خوړی نه، بلکې د يوه افت غوندې دي. ډېری وخت منفي ذهنيت ورسره وي او هيڅکله هم د رښتيا او حق پلوي نه کوي. دوی د علمي تجربو او اصولو د زغم پوتنسيال نه لري، ځکه چې پوهه ورسره نه وي. هره ټولنه چې دا ډول خلک ولري او يا له داسې خلکو څخه جوړه وي د ټولنيز پرمختګ او خوشحالۍ مخ به په سترګو ونه ګوري.

دا ډول ټولنې د جوړښت له مخې د ملنګ ګنځ ته ورته وي، چې د برګو رنجو (ټوټو) څخه جوړ وي. وروسته پاتې ټولنې ټول عمر د ستونزو سره لاس او ګرېوان وي او د ټولنيز پرمختګ تمه هماغسې چې بايده دي ترې نه شي کېدای. په دې ډول ټولنو کې ټولنيزې ستونزې دومره ډېرې وي چې سړی يې په حساب او ګڼلو پسې نه رسېږي. په داسې ټولنو کې د ستونزو حلول ټينګ عزم، ستر زړه او پراخه سينه غواړي. ۳مخ

له فرهنګي پېښليک نه



د افغانستان د علومو اکاډمي او د تاتارستان د علومو اکاډمي ترمنځ ويډيو کنفرانس

۴مخ

د ((نيمبولا او ديمبولا)) بله منظومه کيسه

بشرمل زرغون

په نړۍ کې ډېر زيات ولسونه او ملتونه تېر شوي، هر ملت ځانته ځانګړې خيالي افسانې او ولسي کيسې لري، له دغو کيسو سره- سره هر ولس او ملت ځانته خپل ځانګړي نکلونه هم لري، چې نوموړې کيسې او نکلونه ورته له ډېرې پخوا زمانې څخه را پاتې دي، له يوه نسل څخه بل نسل ته خوله په خوله رسېدلي، له دغو افسانو او خيالي کيسو څخه د انساني ذهن د بشپړوالي پړاوونه په ښه شان څرګندېږي او له همدغو کيسو نه د بشري تمدن په بېلابېلو دورو کې د انساني ژوند پړاوونه هم ښه جوتېږي.

د نړۍ پر مخ به داسې ژوندي ملتونه نه وي، چې په خپلو کې دغسې روايتي پخوانۍ افسانې چې د دوی د ژوند ښکارندويي وکړي، و نه لري؛ د بېلګې په توګه د يونانيانو اوډيسه، د روميانو اينيډ، د عربو ليلی او مجنون، د ايران شېرين او فرهاد، د هندوستان سيتا او رام، د سند سوهني مهنيوال، د پنجابيانو هير او رانجا چې دغه کيسې په نړۍ کې ډېرې مشهورې دي، زموږ په افغاني ټولنه کې يادې کيسې هم ډېرې اوڅارې دي، دغه کيسې د نړۍ په ډېرو ژبو ژباړل شوې دي او له دې سره سره يې نړيوال شهرت هم موندلی دی[1].

زموږ د هېواد په بېلابېلو سيمو کې دغه ډول روايتي افسانې ډېرې زياتې دي، يادې کيسې او نکلونه په خپل منځ کې ځانګړې نارې هم لري، چې دغو نارو بيا د کيسې يا نکل جذابيت نور هم ډېر کړی او تاثيرات يې هر چا ته څرګندېږي[2].

په همدې اساس د دغو سيمه ييزو داستانونو، نکلونو او يا کيسو تر دې دمه ډېرې ټولګې چاپ شوي، چې هر چا په يو ډول نه يو ډول راټولې او ثبت کړي دي، د دغو منظمو کيسو لومړی تاريخ موږ ته د سکندرخان ختک له کيسې نه راپيلېږي، سکندرخان د ليلی او مجنون کيسه لومړی په نظم وليکله او وروسته بيا نورو شاعرانو د نړۍ نورې مشهورې کيسې په پښتو نظم اړولې دي.

سکندرخان ختک وايي:

ما خپل عمر د شل دوو کالو حساب کړ
چې تمام مې د ليلی مجنون کتاب کړ[3]

له پورته يادونو مې موخه دا ده، چې پښتو ژبې ته دغه ډول کيسې يا له نورو ژبو راغلې او يا په خپله په ولس کې تر دې دمه پاتې شوي، د دغو کيسو په لړ کې يوه کيسه هم د (نيمبولا او ديمبولا) په نامه ده، دغه کيسه په پښتو ادب کې ډېرو شاعرانو او ليکوالو د نظم او نثر په شکل را اخيستې ده، کومو کسانو چې دا ۲مخ

لیکواله: مېرمن صادقي

په علمي مقالو کې د ادبي غلاوو علتونه

ژباړن: څېړنيار حضرت اغا همدرد

ښايي په مقاله کې ادبي غلا او ادبي مشابهتونه د ليکوال د پوهېدنې پرته په مقاله کې رامنځته شي او ليکوال په ناخبرۍ هغې ته په مقاله کې ځای ورکړي، همدا ډول ليکوال له دې هم خبر نه وي چې دا چاره مقالې ته په راتلونکي کې څومره ګرانه تمامېږي.

علمي سرقت(غلا) څه ته وايي؟

د پليجرېزم (Plagiarism) لغت له ډېرو مواردو سره اړيکې لري، له دې جملې څخه شونې ده پر ادبي غلا؛ يعنې د شعرونو، افکارو او تحليل پر سرقت هم اطلاق وکړي. دا کلمه د لومړي ځل لپاره په لومړۍ زېږديزه پېړۍ کې د روم هېواد شاعر (مارتيال) هغه شاعر ته وکاروله چې د ده شعرونه يې غلا کړي و. همدا ډول دا اصطلاح په ۱٦۰۱ز کال (بن جانسون) هغه چا ته وکاروله چې په ادبي غلا باندې تورن شوی و، وروسته بيا په ۱٦۲۰ز کال همدا کلمه د هغه چا لپاره هم وکارول شوه چې علمي موضوعات يې غلا کول. دا چې اوس ډېرې علمي مقالې خپرېږي او د علم د ډګر په هر اړخ کې يې شمېر نږدې څو زرو ته رسېږي؛ نو ډېر امکان شته چې په دې مقالو کې تکراري جملې او عبارتونه له حده ډېر راشي، خو اړينه نه ده چې په دې موضوع اعتماد وکړئ چې له بل هيڅ مأخذ څخه به ګټه نه پورته کوي او تکراري متن به ستاسې په مقالو کې نه راځي، ځکه چې ډېر وخت ښايي علمي او ادبي غلا پرته له دې چې تاسې يې وغواړئ، په اتفاقي(ناخبري) ډول رامنځته شي، چې په اصل کې تاسې د هغې له رامنځته کېدنې نه هيڅ خبر نه ياست. په نږدې کالونو کې دا ډول کړنې په سهوي بڼه ډېرې ليدل کېږي؛ نو اړينه ده چې هره مقاله په کوم خپرنيز ارګان کې خپرېږي، له نورو داسې مقالو سره چې موضوع يې ورسره ورته وي، د ادبي ورته والي له مخې پرتله شي. ۳مخ

| لنډه کیسه |

عطاءالله حسین‌زی

مینه

ټلیفون وشرنګېد راپورته مې کړ نا آشنا نمبر و.

- هلو سلام! څوک، څوک یې؟

ځواب یې رانکړ، بیا مې ورته سلام وکړ څوک خبرې کوئ؟

- وعلیکم سلام! تاسو څوک یاستئ!

- زنګ تاسې وهلی او پوښتنه له ما کوې چې څوک یاست؟! عجیبه خبره! د دې خبرې له اورېدو سره سم کړس، کړس په خندا شوه او و یې ویل:

- زما هم ته پکار یې، په اسمان مې لټولې، خدای په ځمکه راکړې.

- ولې زه څه مرغه وم چې تا په اسمان لټولم او خدای پر ځمکه درکړم.

کله یې چې دا خبره وکړه چې ته مې پکار یې هک پک پاتې شوم، چې دا به څوک وي؟ کوم خپلوان مو نه وي چې ځانته شر جوړ نکړم. له ځان سره مې وویل: راځه چې هرڅوک وي خبرې به ورسره وکړم، معلومه به شي چې څوک ده؟

- ښه نو زه دې په کار یم؛ اوس راته ووایه چې ته څوک یې؟

- ته ما څه کوې زه خو دې پېژنم.

- ښه نو ته چې ما پېژنې نو دا راته ووایه چې زه څوک یم؟ زه خو دې نه پېژنم. ښه نو زما نوم څه دی؟

- ستا نوم انور دی.

- نه زه انور نه یم، شمېره دې غلطه کړې ده. نور راته زنګ ونه وهې!

- ولې به درته زنګ نه وهم، هر وخت چې مې زړه وغواړي زنګ در ته وهلی شم.

- دا بېځایه مزاحمت مه کوه، په نوم مې نه پوهېږې، بیا وایې چې زه دی پېژنم؛ دا څنګه خبره ده. ښه نو ته دې راته خپیل نوم ووایه؟ له لږ څنډ وروسته یې راته وویل:

- زما نوم شبنم ده.

- زموږ په خپلوانو کې د شبنم په نامه څوک نشته دا دروغ ولې وایې. له خندا شنه شوه؛ سمه ده چې ستا خپلوانه نه یم په تلیفون، خو راسره خبرې کوه. یو بل به سره ښه وپېژنو، ته دې هم راته اوس خپل نوم واخله، ما درته په رښتیا خپل نوم واخیست.

- ښه سمه ده زما نوم انور نه، جاوید دی. څومره ښکلی نوم دی، جاوید جانه.

- مننه ستا نوم هم ډېر ښکلی دی شبنم! دا نوم پر هر چا ښه لګېږي، له لږو خبرو وروسته یې پرته له مخې ښه تلیفون بند شو.

له څو ورځو څنډ وروسته یې راته بیا زنګ وواهه او په ډېره خوږه ژبه یې را څخه ښېنه وغوښته چې هغه ورځ مې تلیفون کې چارج ختم شو چې له ما نه خپه نشې. د بیا زنګ په هیله اوس کار لرم بیا درته زنګ وهم بای! بای! په یوه ساه یې دومره خبرې وکړې چې ماته یې د خبرو وار هم رانکړو.

کله یې چې تلیفون بند کړو، زه یې سوچ کې واچولم چې دا څنګه کېدای شي، زه یې نه پېژنم او ما هم نه پېژنې او داسې عجیبه خبرې کوي. هر کله به چې یواځې ناست وم، د دې د خبرو په سوچ کې به ډوب شوی وم، داسې فکر به مې کاوه چې دا نجلۍ ما له ډېر پخوا څخه پېژني او د دې د نوم له اورېدو سره به یو عجیبه احساس راته پیدا کېده او په سوچونو کې به ډوب وم.

ډېر وخت تېر شو چې زنګ یې راته وواهه کله چې ما تلیفون راواخیست، ګورم د شبنم زنګ دی اوکې مې کړ سم د واره یې وویل:

- سلام جاوید جانه څنګه یې کورته مو خیرت دی؟

- شکر الحمدلله ټول جک جوړ دي. ته راته خپل حال ووایه چې ته څنګه یې؟

- شکر زه هم ښه یم.

ډېرې خبرې موسره وکړې د یو بل د ژوند پر هر څه مو ځان خبر کړل. د خبر په جریان کې راته وویل:

- جاوید جانه راځه چې دواړه سره ووینو.

- ډېره ښه خبره ده په کوم ځای که به سره وګورو؟

- په پارک شهر کې به سره ووینو.

- سمه ده، خو کله؟

- همدا نن ماښام به سره ووینو.

- سمه ده، د لیدو په هیله خدای په امان.

- مننه ستا هم.

د ماښام تر رارسیدو پورې را باندې دا ورځ دومره اوږده شوه تابه ویل چې څو ورځې تېرې شوي دي، هغه ماښام هم راورسېد. پارک ته ولاړم په دې سوچ کې وم چې دا نجلۍ به څومره ښکلې وي، خبرې خو یې ډېرې نازکې- نازکې کولې چې خپله به څنګه وي؟ د ماښام تیاره هم خوره شوه، د برقونو رڼا ګانو داسې زور واخیست لکه رڼا ورځ، زنګ مې ورته وواهه، سم دواره یې تلیفون اوکې کړو او و یې وویل: تورې جامې او زیړه لوپټه مې په سر ده.

کله چې هغې راته خپلې نښې نښانې وویلې ماهم په ډېر تلوار سره هاخوا او دې خوا کتل راکتل له لږ څنډ وروسته مې ولیده چې د پارک په یو کونج کې ناسته ده. د هغې خواته ورروان شوم، کله چې ورنږدې شوم او له نږدې څخه مې ولیده کوم فکر چې ما کاوه، هغه په سیند لاهو شو. نه یې ونه وه او نه ښایست.

سلام مې وکړو، هغې هم په ډېره مینه سره د سلام ځواب راکړو، ورته مې وویل چې هغه شبنم ته یې؟ - هو زه هماغه شبنم یم. ځان یې په ډېر سینګار ښایسته کړی و. نورې خبرې مو سره هم وکړې، خو زما زړه ډېر نا ارامه و له څو دقیقو وروسته مې ورته وویل:

- ګوره شبنم زه ستا لایق نه یم، داسې مې ورته نشو ویلای چې ته ډېره بدرنګه یې یا زما خوښه نه شوې او یا هم زما وړ نه یې، زما او ستا ژوند فرق کوي په ډېرې ښېنې سره زه نور نشم کولای چې په هر قسم خبرو ستا زړه مات کړم. ښه به دا وي چې نور راته زنګ و نه وهې او نه راته ښېرې وکړې، اوس هم سر وخت دی ستا خپله لاره او زما خپله لاره نور به یو بل ته مزاحمت نه کوو.

د ((نیمبولا او دیمبولا)) بله...

کیسه په کوم ډول رااخیستې؛ زه به یې دلته په لنډ ډول راواخلم؛ خو زما مطلب دا دی، چې دا کیسه مفتي عبدالحنان داعي هم د چاربیتې په شکل په ډېر لنډیز را اخیستې، د نورو د یادونو تر څنګ به د عبدالحنان د نیمبولا کیسه هم په لنډ ډول در وپېژنم او کومه چاربیته چې ماته د نوموړي له قلمي نسخې په لاس راغلې؛ هم د بېلګې په توګه راوړم.

نیمبولا او دیمبولا دوه ورونه دي، نیمبولا په بېګم جانې مینېږي، د دوی تر منځ د ملا بهادر په نامه کوم کس د شیطانۍ کار تر سره کوي، چې د دواړو د مینې کیسه پکې پای ته رسېږي.

دا کیسه په ډېرو ژبو کې راغلې، په پښتو کې د لومړي ځل لپاره محمدګل نوري(۱۳۵٦ل‌مړ) د لمبولال یا نیمبولال او تیمبولال په نامه په روایتي بڼه د خلکو له خولې له ځینو نارو سره یوځای راټوله کړې او په خپل آر شکل یې د ((ملي هنداري)) په ټولګه کې خوندي کړې ده. [۲]

د شاعرانو له ډلې ملا نعمت‌الله نوموړې کیسه په پښتو نظم په مثنوي شکل را اخیستې، د للمې احمدګل د چاربیتې په شکل جوړه کړې، د رڅړو اولخان په (۱۳۱٦هـ.ق) کې د مثنوي په بڼې را اخیستې او د ده د نظم پر اساس د دغې کیسې دوه نور ناظمان هم موږ په پښتو ادب کې پېژنو.[۵]

اولخان نوموړې کیسه په دې ډول پیل کړې:

دا قصه چې ما شروع د نیمبولا کړه
هم په لار د نورشالي د امانت دی
نورشالي او امانت کړی ګفتار دی
چې یې ځای د کابل شېرین صورت دی[۶]

بهرني پوه جیمز ډارمسټټر د ((پښتونخوا د شعر هار و بهار)) په کتاب کې نورشالی او امانت د نیمبولا د کیسې، چې د چاربیتې په شکل کې یې لیکلي دي؛ یوځای یاد کړي دي او د نوموړي د یادونې له مخې پښتانه شعراء هم را اخیستي دي، د نورشالي د نیمبولا د چاربیتې د سر بند دا دی:

نصیب راوست ناهیلیه له کابله
نیمبولا په دام کې بند شه ناګومانه
د طوطي په شان عاشق شه په بلبله
چې یې ولیده په سترګو بېګم جانه[۷]

نوموړې کیسه په روایتي شکل د ((سرحد کے رومان)) لیکوال په اردو ژبه کې هم ثبت کړې ده.[۸]

د ((فرهنګ و زبان ادبیات پښتو)) اثر پر اساس د لغمان نوموتي ولسي شاعر محمدنور هم نوموړې کیسه د چاربیتې په شکل کې نظم کړې ده. [۹]

د پورته ټولو یادونو تر څنګ یوه زیاتونه او لاسته راوړنه دا کوم، چې د لغمان یوه بل نوموتي ولسي او دېواني شاعر مفتي عبدالحنان داعي د عبدالرحمن اخندزاده زوی یاده کیسه هم نظم کړې، نظم یې پښتو چاربیته ده، په ډېر لنډ ډول یې د نیمبولا او دیمبولا کیسه د چاربیتې په شکل کې اوډلې ده، دغه چاربیته ماته د علومو اکاډمۍ (۱۹۸) نمبر نسخې او زما د شخصي نسخې له اړخه لاس ته راغلې، شاعر چاربیتې ته (د نیمبولا او دیمبولا قصه) عنوان ورکړی، نوموړې چاربیته دلته کټ مټ له (الف) نسخې نه په دې پار را اخلم، چې د دغې کیسې یو بل ناظم هم په دې کتار کې ثبت او یاد شي.[۱۰]

د نیمبولا او دیمبولا قصه

له کشمیره راوتلي شهزادګان
مسافر د بل وطن دا یې ډېره وه

نیمبولا، دیمبولا دواړه سره ورونه
له خپل ملکه راوتلي د ملکو یې کړل سیلونه
چې په سوات کې راداخل شول اندرونه
بېګم جانې کړل ملا سره بحثونه
دواړه پرېوتل د مینې په زندان
چې د غم توره له هر شي نه تېره وه

نیمبولا ویلې زما دیمبولا وروره
د لیلا مینې ستي کړمه بې اوره
نن بېګا مې خیال دی ځم د دې تر کوره
ته بېرون ولاړ پیره کوه هرګوره
نیمه شپه کې سره دواړه شول روان
دی درون شو دیمبولا باندې پیره وه

هره شپه یې رېږوله په دې شان
مور و پلار یې دې کارو ته ول حیران
بېګم جانې رنګ شو زېړ لکه زعفران
مور یې وکه یوه ورځ ور نه پرسان
دې ویلې نه پوهېږمه په ځان
څوک راځي په ما د شپې ښه یې څېره وه

چې بهادر ملا خبر شو په دې کاره
نور یې جوړه کړه دایره ورته له واره
دوی یې بند کړل په کوزه کې بې مداره
عاقبت یې کړل ستي په سور انګاره
ښاپېرو ورته ژړلې په سوران
د ملا په خیال کې ټوکه مسخره وه

ملا بهادر وکه څه کار د جاهلانو
چې یې واخیسته کینه د ښاپېریانو
ښاپېرو ملا خوراک که د مرغانو
داسې کار وي په هر ځای د دښمنانو
بې له اوره شو ستي عبدالحنان
چې لیلا ګودر له ځي دا یې پیره وه

مأخذونه:

۱: نوري، محمد ګل. ملي هنداره، دریم ټوک.
۲: پورتنی اثر.
۳: هېوادمل، زلمی.فرهنګ زبان و ادبیات پښتو (لومړی ټوک) د ښوونې او روزنې وزارت، د تألیف او ترجمې ریاست:کابل، ۱۳۵٦ ل.
۴: نوري، محمد ګل. ملي هنداره، دریم ټوک.
۵: هېوادمل، زلمی.فرهنګ زبان و ادبیات پښتو (لومړی ټوک) د ښوونې او روزنې وزارت، د تألیف او ترجمې ریاست:کابل، ۱۳۵٦ ل.
٦: جیمز ډارمسټټر. د پښتونخوا د شعر هاروبهار، پېښور چاپ.
۷: پورتنی اثر.
۸: غزنوي، خاطر. سرحد کے رومان، اردو، پېښور چاپ.
۹: هېوادمل، زلمی.فرهنګ زبان و ادبیات پښتو (لومړی ټوک) د ښوونې او روزنې وزارت، د تألیف او ترجمې ریاست:کابل، ۱۳۵٦ ل.
۱۰: داعي، مفتي عبدالحنان. قلمي نسخې، د علومو اکاډمي قلمي نسخه او زما شخصي قلمي نسخه.

په علمي مقالو کې د ادبي...

کوم لګښته ادبي او علمي غلاوې معلومولی شي، خو ځینې نور بیا لګښت لري. هغه سایټونه او سافټ ویرونو چې لګښت نه اخلي، ښایي چې په ځینو برخو کې د مقالې د ادبي او علمي غلا په معلومولو کې ټېروتنه وکړي، نو اړینه ده چې باید په دې برخه کې ډېره پاملرنه وشي، تر څو هغه سایټونه او سافټ ویرونه وټاکئ چې کیفیت یې لوړ وي او د مقالې د ټولو برخو ادبي او علمي غلاوې په نښه کړای شي؛ نو بیا کولای شئ چې په ښه ډول د مقالو علمي او ادبي ارزونه وکړئ. دلته به اوس ستاسې د معلوماتو لپاره د ځینو سایټونو او سافټوېرونو یادونه وکړو، چې ادبي غلاوې په نښه کولای شي:

http://www.plagscan.com/
http://seoabzar.com/plagiarism-checker
http://www.anticutandpaste.com/
http://www.copyscape.com/
http://www.turnitin.com/
http://smallseotools.com/
https://academicplagiarism.com/
http://www.dustball.com/cs/
plagiarism.checker
http://plagiarism-detect.com
http://www.duplichecker.com
http://www.scanmyessay.com
https://www.paperrater.com/
plagiarism_checker
http://www.effectivepapers.com/
plagiarism-checker-for-students.html
http://www.plagiarismsoftware.net/
https://www.scanmyessay.com/
http://www.ithenticate.com/
https://www.diffnow.com/
https://text-compare.com/
https://www.diffchecker.com/

هغه سافټ ویرونه چې ادبي غلا معلومولی شي:

۱. ګرمرلی Grammerly
۲. کپی‌لیکس COPYLEAKS
۳. پلیجریزم چک Plagiarism checke
۴. پلیجریزما (Plagiarisma)
۵. داپلی چکر(DupliChecker)
٦. PlagTracker
۷. پلیج اسکن (PlagScan)
۸. کپی اسکیپ (CopyEscape)
۹. SmallSEOTools
۱۰. یونی چک

په علمي او ادبي څېړنو کې د ادبي غلا د له منځه وړلو لارې چارې

کله چې د سافټویر او سایټونو په مرسته په مقاله کې د ادبي غلا په تشخیص وتوانېدئ او دا مو معلومه کړه چې له نورو مقالو سره څومره ورته والی لري؛ نو بیا اړینه ده چې علمي او ادبي غلا (شته مشابهت) د له منځه وړلو لپاره لاس په کار شئ. مهمه ده چې پوه شو د ادبي او علمي غلا او شته مشابهت د له منځه وړلو لارې کومې دي؟ په مقالو کې د شته ادبي ورته والي د له منځه وړلو لپاره باید لاندې کارونه ترسره کړئ.

لومړی

تر کومه چې کولای شئ، د هغو کلمو پر ځای چې په جمله کې راغلې دي، مترادفې او هم معنا کلمې وکاروئ چې له دې سره به د جملې د تکرار مخه ونیول شي او جمله به لږه څه نوې او تازه معلومه شي. دا سمه ده چې په انګلیسي، فارسي (او پښتو) ژبو کې به یو لغت ډېر مترادفات ولري، خو یاد مو وي چې دا ډول مترادفات هماغه معنا نه ورکوي، نو اړینه ده چې په دې برخه کې لازمه پاملرنه وشي او هغه کلمې وکارول شي چې په معنا کې تغییر نه راولي؛ ځکه ډېر کله داسې کېږي چې هم معنا (مترادفې) کلمې د جملو معنا ته په ځینو شرایطو کې بدلون ورکوي.

دویم

کوښښ وکړئ، د جملو ترتیب ته تغییر ورکړئ او هماغه کلمې په نوي جوړښت او ترتیب سره په جملو کې وکاروئ چې په دې سره به دا ډول جملې له مخکنیو جملو سره خپل ورته والی له لاسه ورکړي او تر یوه بریده به نوې بڼه خپله کړي. دغه راز کله چې د لغاتو ترتیب ته تغییر ورکوئ، ممکن چې د لغاتو جوړښت ته هم بدلون ورکړئ او یا به لږ تر لږه نور لغاتونه هم ور زیات کړئ، تر څو جمله د ګرامر له مخې سمه جوړه شي.

دریم

که شوني وه، نو د جملې ګرامري جوړښت ته دې هم بدلون ورکړل شي، که څه هم د جملې ګرامري جوړښت ته بدلون ورکول له ستونزې خالي نه دی، خو دومره سخته هم نه ده، که د جملو لغاتو ته په دا ډول تغییر ورکړل شي چې لغاتونه غلطي ونه لري، هم ښایي د جملو په ګرامري جوړښت کې تغییر راولي، که څه هم د جملو په دا ډول تغییر کې څه نا څه غلطي وي، مګر بیا هم د پوهېدنې وړ وي؛ خو که د جملو د بدلون لپاره لغات په دا ډول تغییر شي چې لغاتونه غلطي ولري، نو دا چاره بیا د متن په پوهېدنه کې لوستونکي ته ستونزه پیدا کولای شي، ځکه چې لوستونکی بیا نه پوهېږي چې ستاسې موخه څه ده.

د پورته درېوو لارو په مرسته کولای شئ چې نوی او تازه متن ولیکئ او په دې سره به مو څه نا څه د کاپي او ورته والي څخه ځان ژغورلی وي. د دې لپاره چې مقالې مو د نورو له مقالو سره مشابه‌ت ونه لري؛ سبا د علمي سارق (غل) په نوم یاد نه شئ او لیکنې او څېړنې مو د چاپ اعتبار له لاسه ورنه کړي، نو اړینه ده چې یادې لارې چارې په پام کې ونیسئ.

د ژباړې اهمیت

لري چې په معنا یې نه پوهېږي.

په تاریخي، علمي او ټولنیز لحاظ هم ګڼ علوم او مسؤلیتونه شته چې انسان ته ور په غاړه دي، خو هغه ځکه ترې ناخبره دی چې ژبه یې بله ده او ده هڅه نه ده کړې چې ځان وربانديې وپوهوي.

دلته خبره د ژباړې کوو، ژباړه هغه څوک کولای شي چې په ژبه، نه بلکې په ژبو وپوهېږي، که تاریخ ته مراجعه وکړو، نو پخوانیو پاچاهانو، امیرانو او دیکتاتورانو هم د خپلو سیالانو د حال او احوال خبرېدو او یا هم له نورو سره د دوستۍ او اړیکو ټینګولو لپاره خپل ځینې ځیرک کسان په دې ګومارلي وو چې د دښمن او سیاسي رقیبانو ژبې زده کړي، پر مټ یې جاسوسي او ډیپلوماټیک ماموریتونه تر سره کړي او را ټول کړي مطلوب معلومات طبعاً چې د ژباړې له لارې له مسؤلو چارواکو سره شریک کړي.

له بلې خوا چې اوس- اوس له یادو شوو پرمختګونو سره د علومو په اړه هم هره ورځ اثار او معلومات خپرېږي، دغه معلومات یواځې په نړیوالو ژبو وي، سیمه‌ییزې یا کوچنۍ ژبې ترې محرومې وي، خو د ویونکو اړتیا یې ورته له حده زیاته وي، نو باید دغه معلومات ولولي، خو څرنګه یې ولولي؟ یواځینۍ لاره یې ژباړه ده چې باید په خپله ژبه کې ترې خبر شي.

د خپلې ژبې لیکوال او عالمان که خپله نهایي هڅه هم وکړي، نو د خپلو همژبو وګړو علمي او ټولنیزې اړتیاوې په خپله ژبه نه شي پوره کولای، نو اړتیا ده چې ځینې تشې د بېلابېلو اثارو د ژباړې له لارې ډکې شي، ځکه چې د پښتو ژبې د هغه متل له مخې چې (یا مېړه شه او یا د مېړو لمن ونیسه) موږ چې په پښتو کې له بده مرغه د علم او اکاډمیکو بحثونو ډېر مېړني نه لرو، نو اړ یو چې د نورو لمن ونیسو.

زموږ په ژبه کې د ژباړې اړتیا ښایي تر ګاونډیو ژبو ډېره زیاته وي، ځکه چې د هغوی په پرتله زموږ د عالمانو علمي اثار خورا کم دي، دغه تشه نه شي ډکولی، حتی ډېر پښتانه پوهان هم له بده مرغه چې کله- کله خپل علمي اثار هم په خپله ژبه نه لیکي او په نورو ژبو وي. زما په نظر د دې لاملونه به ډېر وي، خو عمده یې دوه دي:

الف- په خپله ژبه حاکمیت نه لرل

د دې معنا دا ده چې شفاهي او نا شفاهي (لیکلې) ژبه طبعاً خپل منځ کې توپیر لري، هر څه د لیکلو وړ هم نه وي، ډېر کسان شته چې نوموتي ویناوال دي، خو کله چې د لیکنې ورته ووایې، ښایي یو پراګراف هم ونه شي لیکلی، د لیکلې ژبې پر مهال د دوی ګوتې رېږدي، یا خو فکر کوی چې په خپله ژبه کې لیکل ډېر ګران دي او د دوی ژبه د لیکلو لپاره نه ده.

د دوی فکر دا وي چې لیکل له ویلو توپیر لري، که لیکلو ته زړه هم ښه کړي، نو اکثره وخت داسې څوک ورسره نه وي چې په لیکلو کې یې مرستندوی شي، یا خو یې هم عالمانه غرور دا نه مني چې یو چاته دې په لیکلو کې ورسره د تخنیکي مرستې لپاره مراجعه وکړي.

ب- له مأخذونو اسانه استفاده او علمي غلا

ګڼ پښتو ژبي عالمان او لیکوال مې لیدلي چې په دري او انګلیسي ژبو لیکل کوي، انګلیسي ښایي کومه ستونزه نه وي، ځکه چې دوی په بهرنیو پوهنتونونو او اکاډمیکو ادارو کې په تدریس بوخت وي، زده کړې یې هلته کړې وي او د دې لپاره چې اثر یې نړیوال او ټول شموله شي؛ نو یو څه که لیکي هم په انګریزي یې لیکي، خو خپله افغانستان کې په دري ژبې د لیک یو لامل هم دا دی چې دوی ګڼ پارسي ماخذونه لري او له ماخذونو څخه هم په دا ډول استفاده کوي چې کمه سلنه یې خپله لیکنه او پاتې یې د کاپي پیسټ د ناروغۍ له مخې له مأخذونو را اخیستې وي او په اثر بیا خپل نوم لیکي.

ډېرو خپله ژبه هم د وخت په تېرېدو سره هېره کړې وي، زه ګڼ داسې کسان پېژنم چې د تخلصونو وروستاړي یې پښتني قبیلوي رېښه لري، خو یو ټکی پښتو یې نه وي زده، دا ستونزه ګڼو افغاني شاهانو ا امیرانو هم درلوده چې مورنۍ ژبه یې پښتو وه، ولې پښتو یې د عمر تر پایه د لیک او وینا ژبه نه کړه.

په هر صورت، هره ژبه د خپلې علمي او کلتوري پانګې د بډاینې لپاره، د خپلې ژبې د لیکوالو له اثارو او هڅو سرېېره، له نورو ژبو هم هر اړخیزې ژباړې ته اړتیا لري او هغه تشې پرې ډکېږي چې لا یې په ژبه کې ځای د لیکنې له لارې نه وي ډک شوی.

له یوې ژبې ژباړه کول هغه ژبې ته د احتیاج معنا نه لري، بلکې له هغو علومو او فنونو سره د لېوالتیا یو ثبوت دی چې د ژبې ویونکي یې خپلې ژبې ته له کړاو او زحمت وروسته را لېږدوي، علم پالنه او بشریت ته خدمت دی، دا چې ژبه یوه ټولنیزه پدیده (ښکارنده) ده؛ نو اړتیاوې او ستونزې یې هم ټولنیزې دي چې حل لارې یې د ټولنې له منځه تېرې شوي او د ژبې ځیرک او خواخوږي مینان یې په ښه توګه درک او حل کولی شي.

باید چې ډېر ناهیلي هم نه شو، پښتو ژبه هم د نړۍ له هغه ژبو ده چې اوسمهال یې منځپانګه د ګڼو علمي او کلتوري اثارو نه ورځ په ورځ ډکېږي، د دې اثارو یوه برخه که پښتنو لیکوالو په خپل زیار او زحمت رامنځته کړي، خو پاتې برخه یې د ژباړې له لارې پوره کېږي چې بیا بسنه نه کوي.

په دې وروستیو کې پښتو ژبې ته د ژباړې لړۍ چټکه شوې، چې دا یو پر ځای او اړین ګام و، هره اونۍ نوي ژباړل شوي اثار خپرېږي چې ډېره برخه یې له دري ژبې ده، خو اردو، انګلیسي، عربي او نورې ژبې هم په کې شته.

دا اثار د کمیت له اړخه د ستایلو وړ دي، باید ژباړونکي یې وستایل شي، ځکه چې هغوی له خپلې ژبې او علم سره د مینې له امله دا کار کړی، خو کیفیت او د ژباړې ژبې ته یې پاملرنه اړینه ده. دوی چې اکثره داوطلب ژباړونکي دي، د ژباړې په اهمیت پوهېږي او د همدې خواخوږۍ له مخې یې ژباړې هم لوستونکي په مینه مني.

د دې بحث په پای کې به د ژباړې د اهمیت او اوسنۍ اړتیا په اړه یو څو ټکو ته لنډه اشاره وکړو:

۱- ژباړه د ژباړونکي د ذهن او ځواک په زور تر سره کېږي او د هغه ذهني انرژي مصرفوي؛ نو اړینه ده چې ژباړن باید خپله دا انرژي بې ځایه مصرف نه کړي او تر ښو هم ښه او ګټور اثار وژباړي.

۲- ژباړونکی که په هر ځای کې اوسېږي، په هر ډول چاپېریال کې را لوی شوی وي، خو د خپلې ژبې او ټولنې فرهنګ باید هیڅکله هېر نه کړي او هغه څه وژباړي چې په ټولنه کې یې فرهنګي جذب ولري، د فکري انحراف او ارزښتونو د سپکاوي حس په کې نه وي.

۳- موږ چې له علمي مسائلو او اړتیاوو لرې پاتې شوي یو، باید د هغو اثارو ژباړې ته اهمیت ورکړو چې زموږ د علمي او فکري کچې د لوړاوي او ګټه اخیستنې سبب ګرځي، ټولنه ورته سخته اړتیا لري.

۴- یو وخت به مو د هنري او ذوقي اثارو ژباړې ته ډېره اړتیا او لېوالتیا درلوده، خو اوسمهال دا تشه تر یو ځایه ډکه شوې، غوره به وي چې د طبي، ساینسي، حقوقي، اقتصادي او نورو علمي اثارو ژباړې ته وخت او اهمیت ورکړل شي.

۵- د ژباړونکو تر منځ د همغږۍ او همکارۍ اړتیا تر بل هر وخت زیاته شوې او خپل سري کارونه کله کله د ګټې ترڅنګ زیات تاوانونه هم لري، ښه به وي چې ژباړونکي د یوه اثر تر ژباړې وړاندې خپلو کې همغږي ولري او ژباړې تخصصي او مسلکي اړیکو ته په پام سره وشي.

٦- ژباړونکو ته اړینه ده چې د غوره ژباړې لپاره یواځې په خپله شته وړتیا هم بسنه ونه کړي، باید چې په دې برخه کې پراخه مطالعه ولري، د دې برخې روزنیز اثار ولولي او د مسلکي معلوماتو د لوړاوي په اوږد مهاله او لنډ مهاله پروګرامونو کې شامل شي.

۷- هر پوه کس د ناپوه پر وړاندې مسؤلیت لري او لوستي یا له څو ژبو سره اشنا کسان د ټول ځوان نسل پر وړاندې مسؤل دي چې باید په نورو ژبو د خپلو علمي مطالعاتو یوه برخه له هغوی سره د ژباړو له لارې شریکه کړي.

۸- په ژباړه کې د تازه او نوو اثارو انتخاب ډېر اهمیت لري، ژباړونکي باید د زړو معلوماتو او اطلاعاتو د ژباړې پر ځای تل د تازه، کارېدونکو او هغو اثارو ژباړې ته اهمیت ورکړي چې د با اعتباره او مخورو پوهانو او مسلکي ادارو له خوا د علومو نړۍ ته وړاندې شوي او په ټولنه کې یې اړتیا تر بل هر وخت زیاته ده.

د ژبې د پرمختګ...

که چېرې په یوه ټولنه کې د ټولنیز نظم، انسجام او عدالت د ټینګولو اړتیا نه وای، نو هیڅکله به هم د اساسي قانون د رامنځته کولو تشه نه وای محسوسه شوې. داسې قانون د ټولنیز پرمختګ او ټولنیزو مشکلاتو د حل په موخه بنسټ او اساس دی. که چېرته په ټولو مواردو کې عملي شي طبعي خبره ده چې د ټولنیزو ستونزو حل او ټولنیز پرمختګ دواړه به ممکن شي.

ژبه هم داسې یوه پدیده ده چې د ژبپوهنیزو اصولو او ټولنیزو قوانینو په چوکاټ کې باید وپالل او وروزل شي. په داسې ټولنو کې چې ډېرې ژبې په کې ویل کېږي او د سواد او زده کړې کچه یې هم یا ډېره ټیټه او یا هم په نشت حساب وي د ستونزو د حل په غرض باید د اصولو او قانون څخه ټینګ ملاتړ وشي.

زه د ژبو د پرمختګ په برخه کې په دې اند یم چې دا لړۍ دې د عدل او انصاف له مخې تر سره شي او د ژبپوهنې اصول دې په هیڅ صورت له پامه نه غورځول کېږي. د دې لپاره چې یوه ژبه لکه څنګه چې بایده دې هماغه شان وپالل شي لاندې ټکو ته دې ژوره پاملرنه وشي:

۱- ژبه باید په ټولنه کې د Alltag یا ورځني ژوند په چوکاټ کې د افهام او تفهیم وسیله وي، دلته باید د ژبپوهنې د معیارونو او ټولنیز جوړښت په اساس یوې ژبې ته د لومړیتوب او اولیت حق ورکړل شي.

۲- د زده کړې او تدریس ژبه دې وي.

۳- د مطبوعاتو او رسنیو په ورشو دې وزرونه وغوړوي.

۴- د ټولنې په سطحه دې دفتري ژبه وي.

۵- په اقتصادي، سیاسي، تخنیکي، دیني او نورو اړخونو کې دې د مفاهمې او کارونې صلاحیت ورکړل شي. زه په دې برخه کې په ځینو پښتنو باندې نیوکه کوم او ښه بېلګه یې د چارو د ادارې د کالني فعالیت د راپور برابرول دي چې د نورو مؤسسو د پښتنو پوهانو پر مټ یې چمتو کوي. د دې یادونې مطلب دا دی چې له دري څخه یې پښتو ته راژباړي.

٦- د یوې ژبې طبعي جوړښت ته دې پاملرنه وشي.

۷- دا چې ټولې ژبې په یوه کچه د پرمختګ په حال کې نه دي، نو د یوې ژبې د اصیلو او ارو ویونو د کارونې او د ارخایزم د مخنیوي په موخه دې د پوریزم پروسه وپالل شي، خو په دې مورد کې د پوهانو ګډ کار او توافق عمده شرط دی. دولت باید په دې برخه کې د پوهانو د پرېکړو ملګرتیا وکړي.

۸- د نویزونو رامنځته کول دې د اړتیا له مخې وي، خو دا کار دې د پوهانو له خوا په متفق ډول پر مخ روان وي.

۹- د فرهنګي یرغل مخه دې د علمي اصولو پر اساس ونیول شي. په دې کړنې سره د یوې ټولنې اصیل کلتور او تاریخ د پیکه کېدو، مسخه کېدو او ورکېدو څخه ژغورل کېږي.

۱۰- په یوه ټولنه کې بېسوادي هغه ستر عامل دی، چې ټولنیزې بدبختۍ او ربړې ترې زېږي، بایده دې چې پر ضد یې ټینګه مبارزه وشي، تر څو د ټولنیزو ستونزو ولې (جرړې) په اسانۍ سره له بېخه او ایستل شي. دې ټکي ته باید چې ژوره پاملرنه وشي. په دې برخه کې دولت او اکاډمیک مرکزونه ستر مسؤلیت لري.

پوهان وایي چېرته چې یو ښوونځی پرانیستل کېږي، د یوه زندان دروازه تړل کېږي. موږ د دې یادونې اغېزې په خپله ټولنه کې وینو؛ نو ځکه د ډېرو خبرو اړتیا نه لیدل کېږي.

د دې معلوماتي لیکنې په اخر کې د پایلې په ډول ویلی شو چې ژبه د ټولنې سره په ګډه خپل ژوند ته دوام ورکوي او په همدغه چاپېریال کې تحول، بدلون او انکشاف کوي. په کومه اندازه چې یوه ټولنه پرمختګ کوي په هماغه کچه د ژبې په پرمختګ باندې هم اغېزه کوي. کوم عوامل چې یوه ټولنه شاته غورځوي ژبه هم ترې نه شي په ډډه کېدای. ژبه هم همداسې متقابل پدل لري او د ټولنې په پرمختګ کې غوڅه ونډه اخلي، ژبه د یوې ټولنې روح دی، که روح نه وي نو یواځې کالبوت هیڅ هم نه وي. د ژبو ترمنځ د تعادل اصل ته پاملرنه کول ټولنیزې ستونزې کموي او له منځه یې وړي. د دې لپاره چې انساني کلتور لا پسې وغوړېږي تر هر څه لومړی باید چې د ژبو حقونو ته ژوره پاملرنه وشي.

په علمي مقالو کې د ادبي...

د علمي سرقت(غلا) د رامنځته کېدو عوامل

۱. په مقالو او څېړنیزو موضوعاتو کې له انټرنېټ څخه ډېره استفاده کول.

۲. اطلاعاتو یا ډېټا ته چټک او په لږ لګښت سره لاسرسی پیدا کول، معنا دا چې اصلي یا لومړي مأخذ ته د لاسرسي هڅه نه کول.

۳. د لیکوالو د لیکنو او آثارو د حقوقو د ساتنې د کلتور نه شتون.

۴. د علمي- څېړنیزو لیکنو د موجوده اصولو او قوانینو څخه ناخبري او په دې برخه کې د خبرداري او پوهې نه شتون.

۵. د منابعو، علمي ظرفیتونو او توانایي نه پېژندنه او پر زدکړیالانو او څېړونکو باندې د څېړنې او تحلیل پر مهال فشار.

٦. د څېړنې او مقالو کمیت ته پاملرنه، معنا دا چې کیفیت یې په پام کې نه نیول کېږي. همدا ډول د امتیاز او شهرت د ترلاسه کولو په خاطر په مقالو او څېړنو کې د کیفیت پر ځای کمیت ته ډېره پاملرنه کول.

۷. د مدون د اخلاقي منشور او قوانینو نه شتون.

۸. د معنوي ملکیت ساتنې او رعایت لپاره د کلتور جوړونې او پوهاوي نه شتون.

۹. په هېواد کې د تدوین د قوانینو د اجرا او ارزونې د مرکزونو نه شتون.

۱۰. په علمي ـ څېړنو کې د هغو هېوادونو د څېړنیزو میتودنو نه خپلول چې په علمي- څېړنیزو لیکنو کې یې ډېر پرمختګ کړی دی.

د علمي غلا د معلومولو لارې چارې

د مقالو په متن کې د علمي او ادبي غلا د معلومولو لپاره ډېرې لارې شته، چې له هغو څخه ځینې سافټ ویرونه او ځینې یې منلي سایټونه دي چې په مقالو کې د ادبي او علمي غلاو د معلومولو لپاره مرسته کولای شي، خو له دا ډول سافټ ویرونو څخه ګټه اخیستنه، ځینې محدودیتونه هم لري. څوک نه شي کولای چې پرته له دې سافټ ویرونو په مقاله کې ادبي غلا معلومه یا تشخیص کړي، نو ځکه باید دا ډول سافټ ویر ته لاسرسی ولري. په دې سافټ ویرونو او سایټونو کې داسې هم شته چې لګښت نه لري، یعنې په مقاله کې پرته له ۲مخ

زېرى

علمي، څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تاسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۳۹۹ ل.کال غبرګولي(جوزا) مياشت | ۵-٦مه ګڼه | پرله پسې ۳۴۹- ۳۵۰مه ګڼه

د کتونکې ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدير: څېړنيار احسان الحق
مهتمم: څېړنيار ياسرپاچا
د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ

د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸٦۰۳۳
برېښنالیک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار
کابل—افغانستان

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارګان
• په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پر غاړه دی.

فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک

څېړنوال محمد آصف احمدزی

له ۵۰ هنرمندانو او فرهنګيانو سره نقدي مرسته وشوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په وړانديز او د جمهوري رياست د عالي مقام په منظورۍ هغو پنځوسو تنو هنرمندانو او ليکوالو ته چې د ځانګړي طرزالعمل او همدارنګه د يوې ګډې کمېټې له خوا مستحق پېژندل شوي وو، مرسته شوې پنځوس زره افغانۍ هر يو تن ته ورکړل شوې.

په دې اړه د غبرګولي په لومړۍ نېټه په جوړو شويو مراسمو کې د دې وزارت د هنر او فرهنګ معين پوهاند رسول باوري د دې مرستو د وېشلو پرمهال له ولسمشر محمد اشرف غني څخه مننه وکړه چې د وزارت او د هنر عالي شورا وړانديز يې ومانه.

سرچينه: http://www.bakhtarnews.com.af/dari/culture/item/126646

کانديد اکاډميسين پوهاند مير حسين شاه وفات شو

د هېواد نوموتی ليکوال، څېړونکی، مؤرخ او علمي شخصيت کانديد اکاډميسين پوهاند مير حسين شاه د وريېښې ناروغۍ له امله د ۹۵ کلونو په عمر د پرديېسۍ په ديار کې په امريکا کې د ۱۳۹۹هـ.ش کال د غبرګولي په ٦مه (د ۲۰۲۰م کال د مې ۲٦مه) په حق ورسېد. «انا لله و انا اليه راجعون»

پوهاند مير حسين شاه چې کلونه- کلونه يې په کابل پوهنتون کې د هېواد د بچيانو د روزلو سپېڅلې دنده تر سره کړې وه او د دې تر څنګ يې د بېلابېلو علمي بنسټونو غړيتوب هم درلود؛ لکه د افغانستان د علومو اکاډمۍ ممتاز غړی، د افغانستان د ملي ارشيف غړی، د افغانستان د تاريخ انجمن غړی، د کابل پوهنتون د عالي شورا غړی، د افغانستان د لرغون‌پېژندنې مسلکي غړی، د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت مشاور، د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت مشاور او په نوي ډهلي کې د هند د ملي ارشيف غړی.

نوموړي دغه راز ارزښتمن علمي څېړنيز آثار هم ليکلي وو، چې په دې سره يې د هېواد د فرهنګ او تاريخ په غنامندۍ کې خپله ونډه په سمه توګه تر سره کړې وه.

سنځل‌ګل څوارلسمه دوديزه کلنۍ مشاعره ترسره شوه

د لوګر ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په زيار او د ولايت مقام په همکارۍ په دې ولايت کې د سنځل‌ګل څوارلسمه دوديزه مشاعره د سولې او اوربند تر عنوان لاندې د غبرګولي په ۱۵مه نېټه د لسګونو شاعرانو له خوا ونمانځل شوه.

د مشاعرې لومړۍ برخه ويناوو ته ځانګړې شوې وه او دويمه برخه يې مشاعره په پای کې د لوګر د اطلاعاتو او فرهنګ رياست په نوښت د کتاب نندارتون، د قديمي توکو نندارتون او د لاسي صنايعو نندارتون هم نندارې ته وړاندې شوي ول چې د ګډونوالو له ګرم هرکلي سره مخامخ شول.

د پروګرام په وروستيو کې د مشاعرې ګډونوال شاعران، د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له خوا په ځانګړو ډاليو ونازول شول.

عبدالاحد عارض په حق ورسېد

ليکوال او مترجم عبدالاحد عارض د ۱۳۹۹هـ.ش کال د غبرګولي په لسمه (د ۲۰۲۰م کال د مې ۳۰مه) د ۱۰۲ کالو په عمر په کابل کې د مغزي سکتې له امله وفات شو.

عارض په ۱۲۹۷هـ.ش کال کې د کندهار د هرات بازار د ملا شال ناصري په کوڅه کې زېږېدلی و. لومړنۍ زده کړې يې تر ۱۳۱۳ پورې په خپل محل کې کړې وې او تر ۱۳۱۵ کال پورې يې د عربي او اردو ژبو د کتابونو په ويلو سره پر دې ژبو هم لاس برى شو.

لومړنۍ دنده يې په ۱۳۱۵ل په ملي بانک کې شروع شوه، وروسته يې په وطن شرکت کې وه، د مېوې شرکت او د قند جوړولو په شرکت هم دندې اجرا کړې دي.

په ۱۳۳۰ کال چې د قند جوړولو شرکت په دولتي انحصاراتو پورې وتړل شو، نو عارض د شرکت له خوا کابل ته تبديل شو، په همدې وختونو کې عارض له ويښ زلميانو ګوند سره هم يوځای شو.

په ۱۳۴۵ل کال کې د روزګان ولسوال او وروسته د کورنيو چارو وزارت د ترانسپورت مدير وټاکل شو، دی په ۱۳۵۳ کال کې ننګرهار ته لاړ او هلته د سرکاڼو ولسوال وټاکل شو. يو کال وروسته تقاعد کړل شو.

عبدالاحد عارض د خپلو رسمي دندو تر څنګ د قلم لار هم نه ده پرې ايښې، ځيني تـألیفات او ژباړې يې په لاندې ډول دي:

۱- بې سواده آمر، ۲- د ملګرو ملتونو منشور، ۳- ابوريحان البيرونۍ (دري)، ۴- فتاوی دار العلوم ديوبند (۱۲ ټوکه) (دري)، ۵- قوت القلوب (۲ ټوکه) (دري)، ٦- رياض الصالحين (۳ ټوکه)، ۷- بوستان سعدي (پښتو)، ۸- د سزاګانو اسلامي قانون، ۹- درود او سلام، ۱۰- درود و سلام (دري)، ۱۱- اسماءالحسنی، ۱۲- اسماءالحسنی (دري)، ۱۳- فتاوی معمی (دري)، ۱۴- حلال او حرام، ۱۵- احکام ميت، ۱٦- احکام و مسايل روزه، ۱۷- مسائل زکات، ۱۸- احکام ميت (دري)

د ښاغلي عارض مقالې په ورځپاڼو او جريدو کې هم خپرې شوې دي، چې ډېره برخه يې په مساوات جريده کې موجوده ده.

سرچينه: هېواد تلويزيون Hewad Television

د افغانستان د علومو اکاډمي او د تاتارستان د علومو اکاډمي ترمنځ ويډيو کنفرانس

د افغانستان د علومو اکاډمي د رهبري پلاوي او د تاتارستان جمهوريت مرستيال لومړي وزير او د همدغه هېواد د علومو اکاډمي مشرتابه د غبرګولي په ۱۳مه نېټه په کابل کې د علمي او فرهنګي همکاريو د ايجاد په موخه دوهم علمي ويډيو کنفرانس ترسره کړ.

د کنفرانس دغه زمينه په کابل کې د روسيې سفارت فرهنګي مرکز له خوا برابره شوې وه چې په کې دواړو خواوو د علمي او فرهنګي همکاريو په رامنځ ته کېدو بحث وکړ.

لومړی په کابل کې د روسيې سفارت فرهنګي اتشې ښاغلي نيکرسوف له دواړو خواوو مننه وکړه چې په دې کنفرانس کې يې برخه واخيسته. وروسته په روسيې کې د افغانستان سفير ښاغلي ډاکټر لطيف بهاند وويل چې دواړه خواوې کولای شي د خطي نسخو او لرغون پېژندنې په برخو کې معلومات سره شريک کړي. نوموړي د طلا تپې په اړه د دواړو اکاډميو همکاري اړينه وبلله.

د تاتارستان د علومو اکاډمي مشر هم د همدې هېواد د اکاډمي په اړه معلومات وړاندې کړل.

د افغانستان د علومو اکاډمي علمي منشي څېړنوال رفيع الله نيازي د تاتارستان د لومړي وزير له مرستيال، د همدې هېواد د علومو اکاډمي له رئيس او په روسيې کې د افغانستان سفير ښاغلي بهاند څخه مننه وکړه چې په دې کنفرانس کې يې برخه اخيستې ده. همدارنګه په کابل کې د روسيې سفارت له فرهنګي برخې يې مننه وکړه چې د دې کنفرانس زمينه يې برابره کړه.

نوموړي د افغانستان د علومو اکاډمي پر فعاليتونو رڼا واچوله او دا چې ولې غواړي د تاتارستان له اکاډمي سره همکاري ولري، وويل: دا چې د دواړو هېوادونو اکثريت مسلمانان دي او هم زياتره يې حنفي مذهبه دي او هم دا چې تاتاران ترک توکمه دي، په افغانستان کې د نورو قومونو ترڅنګ ترک توکمي په ځانګړي ډول تاتاريان هم شته؛ نو پر همدې اساس د افغانستان د علومو اکاډمي هيله لري چې د دواړو هېوادونو ترمنځ علمي همکاري ايجاد شي. بله دا چې افغانستان له تېرو درېوو لسيزو راهيسې په هره برخه کې صدمه ليدلې او له دې جملې يې په علمي برخه کې هم زيان ليدلی، خو اوس افغانستان هوډ لري چې د علومو په برخو کې کار وکړي، نو غواړي چې د نړۍ له ډېرو علمي او اکاډميکو بنسټونو سره اړيکې ټينګې کړي او د نړۍ له علمي تجربو استفاده وکړي. له همدې امله غواړي چې د تاتارستان له اکاډمي سره په علمي او فرهنګي برخو کې همکاري ولري.

ده هيله وښوده چې د تاتارستان اکاډمۍ په اړوندو کنفرانسونو او علمي ناستو کې د افغانستان د علومو اکاډمي علمي غړي ګډون ولري، لنډمهاله فيلوشيپونه راکړل شي او هم زموږ د علمي غړو د ماسترۍ او دکتورا لپاره په بشري، طبيعي او اسلامي علومو کې د لوړو زده کړو زمينه برابره شي.

د کنفرانس په پای کې پرېکړه وشوه چې په نږدې راتلونکې کې به د دواړو اکاډميو ترمنځ د همکاريو د ايجاد لپاره د تفاهم ليک د تخنيکي برخو د څېړلو لپاره ګډه کاري ډله جوړه شي او هم به د يوې مياشتې په ترڅ کې د تفاهم ليک مسوده ترتيب شي.

شاعر او عارف حيدري وجودي مړ شو

د افغانستان د دري ژبې پياوړی شاعر او عارف حيدري وجودي د ۱۳۹۹هـ. ش کال د غبرګولي په ۲۱مه (د ۲۰۲۰م کال د جون په لسمه) د ۸۰ کلونو په عمر وفات شو.

حيدري وجودي د تصوف او عارفانه ادبياتو په برخه کې ګڼ مينه وال درلودل او غزلونه يې د خپلو پلويانو تر منځ مشهور و. ده ځان د پخوانيو لويو عارفانو پيرو باله.

حيدري وجودي په شپاړس کلنۍ کې خپل پلرني ټاټوبي پنجشېر نه کابل ته راغلی و او د ژوند تر پايه همدلته پاتې شو.

په کابل کې د غلام نبي عشقري، شايق جمال او عبدالحق بېتاب په څېر د دري ادبياتو مهمو څېرو سره اشنا شو او شعرونه به يې په مجلو او ورځپاڼو کې خپرېدل. وروسته يې غزلونه په کتابي بڼه چاپ شول او ورو ورو يې د نجم العرفا عنوان خپل کړ.

له حي‌دري وجودي ۱۵ چاپي آثار پاتې دي چې شعر و شاعري او ځينې څېړنې دي. له ډلې يې عشق و جواني (۱۳۴۹)، راهنمای پنجشېر (۱۳۵۱)، نقش امي‌د (۱۳۵۵)، سالی در مدار نور (۱۳٦٦، ۱۳۷۹ دويم چاپ) او سايه معرفت (۱۳۷۵، ۱۳۹۱ شپږم چاپ) يادېدلی شي. د ده ځينې شعرونه بېلا بېلو هنرمندانو لکه رحيم مهريار، پرستو او فرهاد دريا سندره کړي هم دي.

حيدري وجودي په ۱۳۱۸ کې د پنجشېر ولايت په رخه ولسوالۍ کې زېږېدلی و. ديني او لومړنۍ زده کړې يې هم هماغلته کړې وې. د زده کړو تر څنګ يې په عربي او پارسي ژبه کې ادبي مطالعه کوله.

د ژوند په وروستيو کلونو کې يې په بېلا بېلو ادبي غونډو کې د مولانا پېژندنې او عرفاني ادبياتو په برخه کې ځوانانو ته معلومات ورکول او روزل يې، همدا راز يې مثنوي هم شرحه کوله.

د عسکرۍ دورې تر پای ته رسولو وروسته يې په ۱۳۴۳ کې په دولتي ادارو کې په کار پېيل وکړ.

د افغانستان د شاعرانو ټولنه کې يې د محرر په حيث کار وکړ. څو مياشتې وروسته د کابل عامه کتابتون کې د مجلو او ورځپاڼو برخې د مسؤل په توګه په کار وګومارل شو او د ژوند تر پايه يې دا دنده درلوده.

سرچينه: https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-52989805

ليکوال او شاعر فضل محمد پنهان ومړ

ليکوال او شاعر استاد فضل محمد پنهان د ۷۹ کلونو په عمر د ۱۳۹۹هـ. ش کال د غبرګولي په ۲۳مه (د ۲۰۲۰م کال د جون ۱۲مه) د جمعې ورځ د غرمې پر مهال وفات شو. استاد پنهان له څه مودې راهيسې ناروغ و.



د نوموړي تر ۲۰ ډېر کتابونه چاپ شوي او څو نور يې ناچاپه پاتې دي. دی د کندهار د عالي دارالمعلمين د پښتو څانګې پخوانی استاد و او نږدې پنځوس کاله يې په ښوونيزه او څېړنيزه برخه کې کار کړی.

د څو آثارو نومونه يې دا دي: په پښتو د انګليسي ژبې ګرامر، ادبي ارمغان، د مشکو بهير، ادب او سياست، کندهارۍ وړمې، شهيد سردار محمداود د تاريخ په هنداره کې، ژورناليزم په افغانستان کې.

د کندهار پوهنتون علمي مرستيال انجنير شير شاه رشاد وايي، د استاد پنهان د آثارو زياته برخه د ادبي، علمي او فرهنګي مسايلو په اړه څېړنو ته بېله شوې ده.

دی زياتوي: «د استاد پنهان څېړنې، په ځانګړې ډول د سهيل لوېديځ زون لپاره د پښتو ژبې، متأخرينو او متقدمينو په اړه څېړنې چې ځينې پرتليزه توګه تر سره شوې دي. هغه واقعاً د ستاينې وړ دي.»

ښاغلي رشاد وايي، د ادبي تاريخ او تذکره ليکنې په برخه کې د پښتو ادب د بشپړتيا پروګرام لپاره د پنهان صاحب اثار ارزښتناک دي.

د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست چارواکي وايي، استاد فضل محمد پنهان د غبرګولي په ۲۴مه د شنبې په ورځ سهار ۱۰ بجې د کندهار پوهنتون د مشاهيرو په هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

فضل محمد پنهان په ۱۳۲۰کال کې په کندهار کې زېږېدلی و. لومړنۍ زده کړې يې د کندهار په ميرويس نيکه لېسه کې کړې او لوړې زده کړې يې د کابل پوهنتون د بشري علومو په پوهنځي کې بشپړې کړې دي.

سرچينه: عصمت بهير، https://www.bbc.com/pashto/arts-and-literature-53029208.

انارګل مشاعره په انلاين ډول ترسره شوه

په کندهار کې د انارګل دوديزه او کلنۍ مشاعره د نورو کلونو په توپير دا ځلې په انلاين ډول د غبرګولي په ۲٦مه ترسره شوه چې په کې د ۱۳ ولايتونو شاعرانو په انلاين بڼه شعرونه وويل.

د مشاعرې د پيل په مراسمو کې د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس حکمت الله افغان وويل، د وزارت په سپارښتنه دا ځلې د کورونا ناروغۍ په خاطر د انارګل مشاعره په ځانګړو مراسمو ترسره نه شوه.

ده له شاعرانو په ځانګړې توګه د نورو ولايتونو له شاعرانو او اديبانو څخه مننه وکړه چې له کورونا سره د مبارزې تر څنګ يې د انارګل مشاعره رنګينه کړه او په شعرونو ويلو سره يې خوند ور وبخښه.

په دې انلاين ناسته کې د بېلابېلو ولايتونو شاعرانو په انلاين ډول يو په بل پسې شعرونه وويل او د ګډونوالو له تاوده هرکلي سره مخامخ شول.

دا لومړی ځل و چې انارګل مشاعره په انلاين ډول ترسره شوه. تر دې مخکې دا مشاعره هر کال په خورا جم او جوش سره نمانځل کېده چې د هېواد د بېلابېلو ولايتونو ترڅنګ د ډيورنډ فرضي کرښې له ها غاړې هم شاعران او اديبان ورته راتلل.

سرچينه: محمد صابر حميدي، https://yaraan.com/